مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یونویمه برخه)

### عبدالحکیم رُستاقي

مؤلف او ښوونکی. د معاصرو افغان لیکوالانو د رسالي لیکوال چي رساله ئـي په هندوستان کي چاپ سوه. د ۱۹۴۰ز لسیزي په اوږدو کي په زندان کي وفات سو.

### عبدالصمد کیوان رستاقي

د عبدالمحمد زوی په ۱۹۲۲ز کال کي د بدخشان په رستاق کي زېږېدلی دئ. ابتدائیي زده کړي ئـي په رستاق کي او ثانوي ئـي په کابل کي کړي دي. د کابل ښاروالی په ګډون د حکومت په بېلابېلو ارګانونو کي ئـي کار کړی دئ. شاعر.

### محمد افضل رسوا

د میرزا محمد یعقوب زوی په ۱۸۹۰ز کال کي زېږېدلی دئ. د حکومت په بېلابېلو ارګانونو کي ئـي د کاتب په توګه کار کړی دی. شاعر.

**رقیه ابوبکر** : وګورئ : رقیه حبیب

### محمد سرور صبا

د محمد حسن زوی په ۱۹۰۳ز کال کي د کابل په پغمان کي زېږېدلی دئ. زده کړي ئـي د حبیبیې په لیسې کي کړي دي. له ۱۹۳۴ تر ۱۹۴۰ز کال پوري د معارف د وزارت تفتیش. په ۱۹۳۳ز کال کي د کابل د ادبي ټولني غړی. د نښان [1] د مډال لاسته راوړونکی. شاعر. د ناروغی له کبله ئـي مخکي له وخته تقاعد واخیست او د ۱۹۵۰ز لسیزي په اوږدو کي وفات سوی دئ.

[1] -Nishan Order


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

## میرزا محمد اکبر صابر

د برهان الدین زوی په ۱۸۸۸ز کال کې د کابل په «ارغندي»[2]کې زېږېدلی دئ. په ادبیاتو، محاسبې او دفتري ادارې کې ئـې خصوصي زده کړې کړې دي. د حبیبیې د لیسې ښوونکی. په پای کې بیرته بزګر سو. شاعر.

## مـحـمـد محسن صابر هروي

د میرزا مـحـمـد رضاء زوی په ۱۹۲۷ز کال کې د هرات په «خواجه عبدالله مصري»[3] کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې په هرات کې کړې دي. د راډیو او مطبوعاتو په ګډون د حکومت په بېلابېلو ارګانونو کې ئـې کار کړی دئ. د پامیر د مجلې مرستیال رئـیس. د څو کتابونو مؤلف او شاعر.

## محمـد ابراهیم ثابت

په ۱۹۳۹ز کال کې له عربي دارالعلومو څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۳۹ز کال کې د ظاهر شاه د شرعي چارو سلاکار. د شاهي پروتوکول د دفتر غړی. په ۱۹۴۴ز کال کې د معارف د وزارت د پښـتـو د څانګې غړی. په ۱۹۴۶ز کال کې د پښـتو اکاډیمی غړی. په ۱۹۵۲ز کال کې د غزني د مطبوعاتو مدیر. په ۱۹۵۲زکال کې د غزني د سنایي خپروني محرر. په پکتیا کې د وړانګې محرر. په ۱۹۵۵ز کال کې د باختر د خبري آژانس د ژباړې د څانګې غړی. په ۱۹۵۶ز کال کې د انسایکلوپیدیا د پښـتو د څانګې غړی. په ۱۹۵۷ز کال کې د پښتو اکاډیمی غړی. لیکوال او شاعر.

## وحید صبري

مشهور سندرغاړی په ۱۹۸۴ز کال کې ووژل سو.[4]

## مـحـمـد امین سادِم [5]

د «قاري سلطان مرغیناني»[6] زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په «قرغان تیپه»[7] کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئـې له خپل پلار سره وکړې او وروسته ئـې اسلامي زده کړې په میمنې کې له مولوي محي الدین مرغیناني سره وکړې. په ۱۹۴۹ز کال کې له خپل پلار سره کندز ته کډه سو. هلته ئـې د کندز د «خیابان»[8] په مدرسې کې درس ولوست. شاعر. مورنۍ ژبه ئـې تورکي ده.

## مولوي عبدالعزیز صادق

(د غوایي له پاڅون وروسته د دیني چارو په څانګې کې د اسلامي چارو رئـیس؟

---

[2] - Arghandab Kabul، دا اصلاً ارغندي دي چې په کتاب کې ورځخه سهواً ارغنداب لیکل سوی دی. - ژ

[3] -Khwaja Abudullah Misri

[4] - Sabri, Wahid : ما ژباړونکي ته د وحید صبري په نوم کوم سندرغاړی په یاد نه دئ. خو د وحید صابري په نوم یو سندرغاړی سته چې تر اوسه لا ژوندی دئ. په روسي ژبې کې ئـې ماستري اخیستې ده او د هغه مهال د کابل د حکومت نـېږدې او نازولی خواخوږی او همکار وو. دلته ئې په انګلیسي متن کې نوم واحد صبري تایپ کړی دئ او بیا ئـې د واحد پر نوم کرښه کښلې او په قلم ئـې وحید صبري لیکلي دي.

[5] - سادم یو عربی صفت دئ چې د پښیمانه، غمجن او ان قهریدلي په معنی دئ. ما دا تخلص د لومړي ځل لپاره په افغانانو کې ولید. - ژ

[6] -Qari Sultan Marghinani

[7] -Qurghan Tappa

[8] -Khaiaban Madrasa



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

## محمد حيدر صادق

د حاجي ملا محمد حسين يوسفزي زوی په ۱۸۹۰ز کال کي د کابل په بګراميو کي زېږېدلی دئ. د خطاطئ هنر ئـي له خپل پلار څخه زده کړ. په شپاړلس کلنی کي د کابل مطبعي کي په کار شامل سو او ورپسي ئـي په نورو بـېلابـېلو دريځونو کي کار وکړ. په ۱۹۲۷ز کال کي د باندنيو چارو په وزارت کي شامل سو او دلته ئـي ۲۱ کاله د کوډينګ او تيليګرام په مديريت کي د خطاط په توګه تـېر کړل.

## حجت الاسلام مير حسين صادقي

هزاره دئ. د ۱۹۳۰ز لسيزي په لومړيو کي د تورکمن په دري کي زېږېدلی دئ. د شيخ محمد امين افشار تر لاس لاندي ئـي د شيعه الهيات ولوستل او ورپسي د ۱۹۵۰ز لسيزي په وروستيو کي د عراق نجف ته د نورو زده کړو لپاره لاړ. د ۱۹۶۰ز لسيزي په وروستيو کي افغانستان ته راستون سو. دهٔ د «سيد ګرايي»[9] په نوم يو کتاب وليکـهٔ چي ددهٔ په نوم چاپ سو او پر هزاره ټولني باندي د سادات (غير هزاره روحانيت) تفوق يا برلاسي تر پوښتـني لاندي نيسي. په ۱۹۷۴ز کال کي ايران ته وتـښتـېد. د «نصر د سازمان» يو له بنسټګرو څخه دئ؛ سازمان ِ نصر د هزاره ګانو د هغهٔ سياسي خوځښت نوم دئ چي د ۱۹۷۰ز لسيزي په منځنيو کلونو کي ئـي د امام خميني د افکارو پيروي کوله. په ۱۹۸۰ز کال کي حجت الاسلام مير حسين صادقي له دوه وو تنو نورو علماوو (شفق او عبدالعلي مزاري)سره عملاً د خپل سازمان حضور په مشهد کي رسماً اعلان کړ. د نصر سازمان اوس په هزاره جاتو کي د (بهشتي د شورى) [10] عمده رقيب سازمان دئ.

## جنرال محـمد ياسين صادقي

رئـيس. په ۱۹۸۲ز کال کي ددولتي اداري د محلي ارګانونو شورئ؛ د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کمـېټي غړی. د شمال ختيځ زون کندز، بولندوی. د مرکزي کمـېټي منشي. د سياسي بيرو د اردو د چارو رئـيس.

## ډاکټر سيد هاشم سائـد [11]

د «سيد اسمٰعيل د زوی» د سيد مؤمن زوی په ۱۹۲۵ز کال کي د کابل په دهٔ افغانانو کي زېږېدلی دئ. د نجات په ليسي کي ئـي زده کړي کړي دي او په ۱۹۵۲ز کال کي د حقوقو او سياسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د نساجي د کمپنی د مراسلاتو مدير. د کابل ښاروالی کارمند. په ۱۹۵۵ز کال کي ئـي عسکري خدمت کړی دئ. د حقوقو د پوهنځي د نشراتو اسيستانت او وروسته د نشراتو مشر، او ورسره هممهاله په ۱۹۵۷ز کال کي د حقوقو د مجلي محرر. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۴ز کال پوري ئـي د کابل په پوهنتون کي د سوسيالوژي او منطق تدريس وکړ او د جرمن پروفيسر د ژباړونکي په توګه ئـي کار وکړ. په ۱۹۶۳ز کال کي جرمني ته لاړ او په ۱۹۶۷ز کال کي ئـي خپله دکتورا تر لاسه کړه. په ۱۹۶۹ز کال کي د کابل پوهنتون د اداري رياست مرستيال رئـيس. له دري مياشتو کار وروسته ئـي استعفی ورکړه او د استاد په توګه ئـي خپلي دندي ته دوام ورکړ. کله چي داؤود واکمن سو خپله دنده ئـي له لاسه ورکړه او تر

[9] -Sayyid Gerai
[10] -Shura of Behesti
[11] - سائـد : عربي لغت دی چي د مهتر يا له هغه لږ راټيټ ته وايي. – ژ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

۱۹۸۰ز کال پورې ئې د څارنوال په توګه کار وکړ. په ۱۹۸۳ز کال کې ئې افغانستان پرېښود او اوس په جرمني کې ژوند کوي. ددۀ زوی، ورور او اوښی ئې دري واړه د تره کي د واکمنی پر مهال ووژل سول.

## ابراهيم صائـق

په ۱۹۵۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې له دولسم ټولګي څخه فارغ سوی دئ. د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کې ئې دري ادبيات لوستي او په ۱۹۷۳ز کال کې ورڅخه فارغ سوی دئ. د سپورت په ليسي کې ښوونکی. د بې سوادی پر وړاندې د مبارزې د رياست غړی؛ د لنډو داستانونو مؤلف چې په بېلابېلاو ورځپاڼو او مجلاتو کې خپارۀ سوي دي.

## محـمد ابراهيم صفا

د امير حبيب الله خان د مهال امين الاطلاعات د رئيس) ناظر محـمد صفر [12] زوی او د محـمـد انور بسمل کشر ورور په ۱۹۰۷ز کال کې په کابل کې (باغبان کوچه کې – ژ) زېږېدلی دئ.  خپلې لومړنی زده کړې ئې په کور کې د مير سيد پادشاه تر لاس لاندې، د پل خشتي د مسجد د مولوي عبدالکريم صاحب تر لاس لاندې په ګډون، په بېلابېلو مسجدونو کې زده کړه ترلاسه کړلې. (په ۱۹۹۲ز کال کې) د زده کوونکو له يوې شل کسيزې ډلې سره کراچی ته لاړ او هلته ئې د تيلګيراف آپريتر په توګه روزنه وليدله. دۀ په عين وخت کې انګليسي او اردو  هم زده کړله. د کابل د تيليګراف په دفتر کې ئې کار وکړ. د معارف د وزارت د تفتيش د رياست غړی. د تيليګراف د ښوونځي مرستيال مدير. د امان الله خان د واکمنی پر مهال ئې خپله دنده د باندنيو چارو وزارت ته تبديله کړله. د باندنيو چارو د وزارت د مطبوعاتو د رياست  مشر ژباړونکی. له ۱۹۳۳ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د ارګ او دهمزنګ په زندانونو کې زنداني وساتل سو. په زندان کې وو چې شاعري ئې پيل کړه. په پای کې د ملي اقتصاد په وزارت کې د ژباړې د مديريت مدير سو. په ۱۹۴۹ز کال کې په کراچی کې د افغان سفارت مطبوعاتي اتشه. د سوداګريزې خونې عمومي مدير او عمومي رئـيس. په ۱۹۵۲ز کال کې د ګرشک حاکم. په ۱۹۵۳ز کال کې د اصلاح د ورځپاڼې رئـيس. په خپلې غوښتنې تقاعد سو. ليکوال او شاعر. د ۱۹۸۰ز کال د دسمبر په ۲۴ نېټه د ۷۳ کالو په عمر وفات سو.

نور بيا

## سهراب علي صفري

د هزاره صفر محـمد زوی د ۱۹۴۰ز لسيزې په اوږدو کې ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آريا د آرشيف: لينک

[12] - Nazir Mohammad Safar : د افغاني ميديا په ډيريو ځايونو کې ئې صفر محمد ليکلي دي. – ژ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ